

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# په تار د رواجو

**لیکونکی: واجد « منګل »**

**ترتیب: افغان کتابتون**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پیل

د شنو وښو درونډ پنډ يې له سره کښته کړ، غټ اسویلی يې وایست، په مخ را څوړند تور ویښته يې په ټیکري کې د ننه ایستل. د تېز لمر له امله يې خولو په مخ لارې جوړې کړې وې.

وروسته څو ګامونه وړاندې لاړه، غوا ته يې چې وړوکی خوسی ځته، اخور کې تازه واښه ور واچول. غوا اخور ته نیږدې شوه، د کلا په دروازه یو بوډا سړی را ننوت، نجلۍ ژر د غوجلې د دېوال سیوري ته پټه شوه.

بوډا د کوټو ته جوړې چوترې ته رسېدو کې په ډډ غږ وویل:

ـ جانداده مبارک شه!

یو دنګ ځوان له کوټې را ووت، خندل يې، په نا باورۍ يې وویل:

ـ کاکا ټوکې خو به نه کوې؟ څنګه راضي شول؟

بوډا په زیره لاس تېر کړ:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ دا مې لمر ته نه ده سپينه کړې!

بيا يې لاسونه سر ته پورته کړل، په ژېړه لونګۍ کې يې شمله نېغه ودروله، په خندا يې وويل:

ـ داسې کيسې دې کاکا ته اسانه دي. شرط مې ورسره ومنلو. هغوی را نه ستا خور خپل زوی ته وغوښته او ما ومنله.

نجلۍ نېژدې وه چې له خولې يې چغې ووځي، له پښو يې ځمکه لاړه، د غوجلې په دېوال ور ړنګه شوه.

يوه ښځه له پخلنځي را ووته، تر شا يې يو دولس کلن ماشوم هم ور پسې وو.

ښځې په زوره سپين ږيري سړي ته چيغه کړه:

ـ زه مې خپله لور يو نشه يي ته نه ورکوم. رب دې تا سره....

ځوان ښځې ته مخ کړ، په تندي کې يې ګونځې پيدا شوې، په خشکه (غوسه) يې خبره ور بنده کړه:

ـ مورې! ته زما خوشحالي نه غواړې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



په عمر پخه ښځه په ژړا کې ببرته پخلنځي ته ننوته...

چوپتیا وه، لیرې د انګړ یو کونج کې چرګې له خپلو کوچنیو چورګوړو سره د ونې لاندې سیورې ته څه خوړل.

ښه شیبه وروسته ماشوم د دېوال خوا ته ګامونه واخېستل، مخې ته یې د یو بنیادم سیورى جوړ شو، پاس یې وکتل، نجلۍ وه، په خوشحالۍ یې وویل:

ـ لالا ته یې ښځه وکړه.

نجلۍ لکه یو بې روحه تابوت، غلې ولاړه وه. له غټو سترګو یې کوچنۍ اوښکې وڅڅېدې، په ورو انداز یې غریو کې وویل:

لالا مې خپل ارمان پوره کړ!

زه یې په تار د رواجو تړلې یمه!

**پای**

(c) ketabton.com: The Digital Library



## یادونه!

**خپل نظرونه مو په لاندې ادرسونو را سره شریک کړئ.**

**فیسبوک: Wajid Mangal**

**واټساپ: +4368864664143**

**ایمېل: wajidmangal2003@gmail.com**

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**